**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د خلافت د بیا را ژوندي کولو د پروژې تبني او په ښکاره د هغه ادعا؛ د نصرت له لومړیو گامونو څخه گڼل کېږي




**(ژباړه)**

د نصرت(بریا) د لاسته راوړلو لپاره هڅې په ځینو اصولو پورې تړلي، چې شریعت څرگندې کړي او طریقه یې روښانه کړې. هغه کسان چې د اسلامي امت د نېکمرغۍ لپاره د اسلامي دولت په لاره کې هڅې کوي او هغه کسان چې د الله سبحانه وتعالی نصرت غواړي، د یوې لویشتې له پرېښودو پرته باید دغه تگلاره تعقیب کړي. موږ ډاډه یو چې ټول مسلمانان د هغې لویې ورځې لیدو ته لېواله دي، هغه ورځ چې مومنان به د الله سبحانه وتعالی له نصرت څخه خوشحاله شي.

ډېرى خلک د اسلامي خلافت د راوستلو لپاره له شرعي تګلارې سره سم عمل نه کوي، په داسې حال کې چې اسلام د امت لپاره د ژوند د اساسي مسلې په توګه بيان کړې ده. د خلافت له ړنګېدو سره سم هغه ډال مات شو چې له موږ څخه يې ساتنه کوله، پر عزت مو تېرى وشو، وينې مو توېې شوې، شتمنۍ مو لوټ شوې او د نړۍ په هر ګوټ کې منزوي شوو او وشړل شو. د خلافت په ړنګېدو سره اسلام له عملي صحنې بهر شو، احکام يې له پلي کېدو پاتې شول او افکار يې تر بريد لاندې راغلل. په پايله کې اسلام يوازې په جوماتونو پورې ځانګړى شو او په فردي قوانينو بدل شو. په داسې حال کې چې د دعوت حکم او د اسلامي خلافت د تاسيس لپاره فعاليت له هغې شرعي تګلارې سره سم چې زموږ د رب لخوا نازله شوې او پيغمبر صلی الله عليه وسلم پلې کړې، د ام الفرايض له ډلې څخه دي.

پر ټولو مسلمانانو لازمه ده چې د خلافت بيا راوستل د ځان لپاره واجب حکم وبولي او هغه د خپل مرګ او ژوند برخليک ټاکونکې قضيه وګڼي. په دې سره به دين يو ځل بيا په عملي بڼه د ژوند پر صحنه را وڅرخيږي او اسلامي امت به خپل عزت او هغه څه چې الله سبحانه وتعالی ورته ډالۍ کړي ترلاسه کړي او دوی به "خير أمة أخرجت للناس" يعنې د خلکو لپاره غوره امت وګڼل شي. يوازې دا بسنه نه کوي، بلکې پر ټولو مسلمانانو لازمه ده چې د دويم اسلامي دولت د راوستلو لپاره فعاليت وکړي. دوی بايد د خپل دعوت تګلاره د رسول الله صلی الله عليه وسلم له هغه منهج څخه واخلي چې په مدينه منوره کې يې د اسلامي دولت (خلافت) د جوړولو په موخه غوره کړی و. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿قُلْ هَذِهِ سَبِيلِي أَدْعُو إِلَى اللَّهِ عَلَى بَصِيرَةٍ أَنَا وَمَنِ اتَّبَعَنِي وَسُبْحَانَ اللَّهِ وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ﴾**

[يوسف: ١٠٨]

***ژباړه:*** *ورته ووایه، زما لاره داده چې زه خلک په پوهې سره د الله سبحانه وتعالی لوري ته رابولم. زما پیروان هم همداسې دي، الله سبحانه وتعالی له ټولو نیمګړتیاوو څخه پاک بولم او زه د مشرکینو له ډلې څخه نه یم (او څوک یا کوم شی له الله سبحانه وتعالی سره نه شریکوم).*

دغه آیتونه د پروردګار لخوا خپل پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم او هغو کسانو ته چې د ده له سنتو څخه پیروي کوي، متوجه دي؛ چې دوی باید یوه ځانګړې تګلاره تعقیب کړي او په واسطه یې مخ پر وړاندې لاړ شي او د الله سبحانه وتعالی په لاره کې د دوی دعوت باید په پوره پوهاوي سره وي. یعنې د دوی دعوت باید له هر ډول ابهام او ګونګوالي خالي او د لمر په څېر روښانه وي. د حق او باطل، د کفر او د دوی د اردو، د ایمان او د هغوی د اردو تر منځ جګړه ازلي ده او هغه څه چې مسلمانان ورسره مخ کېږي په ځانګړې توګه د شام په خاوره کې، د هغې جګړې په اړه څرګند دلیل دی چې د قیامت تر ورځې به دوام کوي. کفري هېوادونه او د هغو دسیسه جوړوونکي دولتونه په خپل ټول ځواک او جنګي وسایلو سره یو ځای شوي، څو هغه انقلابیون له منځه یوسي چې د اسلام شعار یې تر اسمانه پورته کړ او د الله سبحانه وتعالی په لاره کې یې د کافر غرب لخوا د ټپل شوي خاین رژیم او غلامانو د ریښو د ایستلو لپاره سترې قربانۍ ورکړې.

په دغې مبارزه کې یوازې دا بسنه نه کوي چې له خلافت سره یوازې په خپلو زړونو کې مینه ولرو او د الله سبحانه وتعالی نصرت یوازې تر شعار پورې محدود کړو؛ بلکې موږ باید په دې لاره کې ګامونه واخلو او په مېړانې سره ملا وتړو. لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی دغه امر په خپل کتاب کې په ښکاره توګه بیان کړی دی او په یقیني توګه باید د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه تګلاره تعقیب کړو؛ هغه مهال چې د خپل پروردګار لخوا ورته امر وشو، چې د خپل قوم په منځ کې باید خورا ځواکمن او ګړندی دعوت وکړي او هغه صلی الله علیه وسلم یې همداسې اطاعت وکړ. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ﴾

[حجر: ۹۴]

***ژباړه:*** *نو په ښکاره توګه هغه څه چې امر درته پرې شوی، بیان کړه (چې د حق دعوت دی) او مشرکانو ته پام مه کوه (چې څه وایي او څه کوي).*

نو د رسول الله صلی علیه وسلم پر حال دې درود وي، چې خپل دعوت یې په عملي بڼه په سختو ستونزو کې لېږداوه. هغه صلی الله علیه وسلم او ورسره مومن اصحاب د قریشو د زور او ظلم پر وړاندې د حق په ویلو کې تل ربښتیني وو او له هېچا یې وېره نه درلوده. دغه غاښن ماتوونکی قرآني ځواب د هغو کسانو لپاره دی چې غواړي د هغې پروژې راز پټ کړي چې د کافر غرب تر ولکې لاندې ده. باور وکړئ، غرب به له تاسو څخه تر هغه خوشحاله نشي، څو یې چې له دین څخه پیروي ونه کړی. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

﴿وَلَنْ تَرْضَى عَنْكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَى وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ بَعْدَ الَّذِي جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلَا نَصِيرٍ﴾

[بقره: ۱۲۰]

***ژباړه:*** *یهودیان او مسیحیان به تر هغه وخته له تا څخه خوشحاله نشي، څو یې له تحریف شوي دین او ناوړه غوښتنو پیروي ونه کړې. دوی ته ووایه! یوازنی الهي هدایت هدایت دی او که تاسو د علم او پوهاوي له ترلاسه کولو وروسته بیا هم د هغوی له غوښتنو او هیلو څخه پیروي وکړه، د الله سبحانه وتعالی لخوا به دې سرپرستي او ملاتړ ونشي!*

که څه هم د خلافت د بیا راوستو د پروژې تبني کول د نصرت لپاره یو شرط دی، د هغه ادعا د دې تګلارې یوه برخه ده او د دغه امر له اړتیاوو څخه ګڼل کېږي. دا د عزت، نصرت او واکمنۍ د بیا لاسته راوړلو لپاره یوازینۍ لاره ده او دعوت هغه څه دی چې د امت بچیانو ته یې خپل حکمت ښودلی او دوی یې متوجه کړي څو د ایمان په رڼا کې دا لاره تعقیب کړي. د دې تر څنګ د دغې حیاتي قضیې لپاره باید کار وکړي څو یو ځواکمن دولت جوړ کړي، چې په پایله کې به دا دولت د کافر غرب پروژې ته ماتې ورکړي او د هغوی ناوړه قوانین او فاسد نظام به له منځه یوسي او دا هغه څه دي چې زموږ دښمنان ترې وېرېږي. نو د بې زړه او بې غیرته کسانو د باطلې لارې د له منځه وړلو په اړه چې د ظالمانو پر وړاندې تل حق نه ښکاره کوي او د هغوی پر ظلم سترګې پټوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«لا يَمْنَعَنَّ أَحَدَكُمْ رَهْبَةُ النَّاسِ أَنْ يَقُولَ بِحَقٍّ إِذَا رَآهُ، أَوْ يُذَكِّرَ بِعَظِيمٍ، فَإِنَّهُ لا يُقَرِّبُ مِنْ أَجَلٍ، وَلا يُبَاعِدُ مِنْ رِزْقٍ أَنْ يَقُولَ بِحَقٍّ أَوْ يُذَكِّرَ بِعَظِيمٍ»**

(رواه احمد)

***ژباړه:*** *داسې نه چې د خلکو ویره، له تاسو څخه کوم یو د حق له ویلو او څرګندولو لرې کړي، ځکه چې د حق ویل یو ستر کار دی، چې نه مرګ او نه رزق لرې کوي*

**اې د شام صابرو مسلمانانو!** په دې خاوره کې غم اوړد شو، خپګان ډېر شو او د دغې دښمنۍ بیه درنه شوه. تاسو زموږ شاوخوا ته د دښمنانو د لښکرو شاهدان یئ او هر هغه کس پرېښودو چې له موږ سره یې د ملګرتیا ژمنه کړې وه. موږ له الله سبحانه وتعالی پرته هېڅ ساتونکی نه لرو او الله سبحانه وتعالی د نصرت او واکمنۍ ژمنه له هغو مؤمنو بندګانو سره کړې ده چې په نه پرې کېدونکې رېښې (اسلام) منګولې لګوي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم او اصحابو تګلاره د زړه له تله تعقیبوي.

نو، اې مخلصو او صادقو خلکو! راشئ چې په خپل منځ او له الله سبحانه وتعالی سره تړون وکړو چې د الله سبحانه وتعالی له دین څخه به ملاتړ کوو. خپل دین په ډاګه ښکاره کوو او خپله پروژه چې "د نبوت پر منهج د دویم راشده خلافت پروژه" ده، اعلانوو او د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره د هر رټونکي له رټلو څخه نه وېرېږو. له هغو مخلصو او ربښتینو دعوتګرانو سره یو کېږو، چې له ځان سره یې د خلافت د تاسیس لپاره ژمنه کړې څو د الله سبحانه وتعالی نصرت په دنیا او اخرت کې ترلاسه کړي. په پایله کې باید د الله سبحانه وتعالی د قوانینو شاهدان وو او یوازې د رسول الله صلی الله علیه وسلم بیرغ ورپوو او همدا زموږ یوازنۍ دبدبه، ازادي او د ټپي زړونو لپاره پوره شفا ده. دا کړنه خیالي نه ده، بلکې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم له لوري زیری او د رب العزیز الحکیم حقیقي ژمنه ده. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَنْ كَفَرَ بَعْدَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾**

[نور: ۵۵]

***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی ستاسو له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړی او ښه عملونه کوي، ژمنه کړې چې دوی به په ځمکه کې خپل ځایناستي تاکي؛ لکه څنګه یې چې له دوی وړاندې ځایناستي ټاکلي وو او دوی ته به خپل دین چې الله سبحانه وتعالی ورته خوښ کړی، په محکمو بنسټونو ودروي. په یقیني توګه د دوی وېره په ارامۍ او امنیت سره بدلوي. هغوی یوازې زما بندګي کوي، له ما سره څه نه شریکوي او کله چې څوک له دې وروسته کافر شي، همدا کسان فاسقان دي.*

**حزب التحریر-ولایه سوریه**